# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com                                afgazad@gmail.com

| Social | اجتماعی |
|---|---|

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

۰۴ دسمبر ۲۰۱۲

# معلولین او معیوبین،

# د زیارکښانو رنځیدلی برخه او د لوټمارانو قربانیان

دا وخت په افغانستان کې اته سوه زره معیوبین او معلولین په ډیرو ستونزو، رنځونو او کړاونو کې ژوند تیروي. دا زیارکښان د نادارو او بیوزلو طبقو له منځه راځي. هغه ناداره طبقې چې په تیرو خونړی جنګونو او په تیره بیا په اوسني یولس کلن یرغل کې تر ټولو زیات قرباني ورکړی ده او په بیرحمی ځپل شوي او رټل شوي دي.

د معیوبینو او معلولینو ورځ په داسې حال کې د اوسني دولت لخوا چې د پردیو په پیسو چلیږي ولمانځل شوه چې معیوبین او معلولین د نورو زیارکښانو په شان په بدمرغیو او رنځونو کې ژوند تیروي، سوالګري کوي، د پولیسو لخوا توهینیږي او دولت هم هغوی ته د څو سوه روپیو په ورکولو د هغوی سپکاوی او تحقیر کوي.

په تیرو څه باندې دیرش کالو کې د زیارکښانو دښمنانو په بیلابیلو نومونو زیارکښان وژلي دي، اسیر کړي دي، وهل دي ، ټپي کړي دي، لوټلي دي او شکنجه کړي دي. د دې ظلمونو او ستمونو سلسله لا ادامه لري او په ډیر وحشت سره ادامه لري. بهرنیان زموږ زیارکښان یا وژني یا هغوی ټپي کوي او یا یې شکنجه کوي، معلولین او معیوبین د هغوی د بمباریو نتیجه ده، معلولین او معیوبین د هغوو انتحاري حملو نتیجه ده چې طالبان یې تر سره کوي، معلولین او معیوبین د هغه شکنجو نتیجه ده چې د اوسني دولت په ځینو نهادونو کې تر سره کیږي، معیوبین او معلولین د هغه کارخانو، فابریکو او شرکتونو نتیجه ده چې په بیرحمۍ سره زیارکښه کارګران استثماروي او د خپلو ماشینونو، بلدوزرونو او کارخانو قرباني کوي.

پر موږ زیارکښانو ده چې د خپلو معیبو ورونو او خویندو، د خپلو معلولو خویندو او ورونو څخه ملاتړ وکړو، ځکه چې هغوی هم یو وخت زموږ په شان زیار ایست، خو لوټمارانو او یرغلګرانو لاسونه او پښې ورڅخه واخیستلی او

هغوي يي په کړيدلو او ځوريدلو انسانانو بدل کړل چې اوس په تاسف سره اوس داسې دولت ته په تمه ناست دي چې په خپله کشکول ګرځوي.

تر څو چې زموږ په وطن کې بهرني قوتونه وي او بمبار او وژل وي، تر څو چې زموږ په وطن کې انتحار وي، تر څو چې دا دولت وي، داسې دولت چې يوازې د سرمايه دارانو او شتمنو او زمينداراونو او خانانو دولت دی، د زيارکښانو په منځ کې به د معيبونو تعداد او شمير ډير شي او معيوبين به هيڅکله آرامه ژوند ته و نه رسيږي.

د افغانستان د زيارکښانو ټولنيز انجمن

د۱۳۹۱ کال د قوس ديارلسمه نيټه